


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نېټه : ۱۴ جولای ۲۰۱۳ میلادی

# نعت

دنيا ټوله روښـــــــانه شوه په نوم د محمد
خپور شو هره خوا ښـــکلی پيغام د محمد

وحشت او تورتـــم ورک شو، جهالت لاړه
تورتم کی روښنايی شوه په هرګام د محمد

که ناست يم که ولاړ يم زه خو وايـــــمه
کلمه د لاالله زه صبح وشـــــام د محمد

ابليـــــس دی ما شړلی مســـلمان يمه
مين يمه په نوم او په اســـــلام دمحـمد

چی وشړی ابليس او بی دينـــی له ځـان
تکبير ناری وهی نن خاص او عام د محمد

دا زه محب خوشبخت يم چی امت د پيغمبر يمه
په زړه کی می ټاپه دی ښکلی نام د محـــــمد
****
محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است